لیکونکی: ریچارد ها نا نیا (Richard Hanania) .

منبع اودخپریدو نیټه : انتی وار «2020-07-16».

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

-------------------[79]------------------------------

# ولی له طالبانو سره هیڅ ډول معا ملی ته اړتیا نشته ؟

## why no deal is needed with the Taliban

متحده ایالات با ید له افغا نستا ن څخه خپل ځواکونه وباسی اوخپل ګټو ته مخه کړي ، اجازه راکړي چي سیمیز قدرتونه ددوی په اړه اندیښنه ولري

***The U.S. should withdraw from Afghanistan and tend to its own interests. Let local powers worry about theirs.***



د کا بل حکومتی ځواکونه دپلازمینی په سرکونو کی ګزمی کوی ( عکاسی د شوټرستوک پواسطه )

*لکه څنګه چي اولسمشر «ټرامپ» دا فغا نستا ن څخه د متحده ایالاتو د وتلو په اړه دخپل پلان سره سم پرمخ ځی ، دهغو خلکو په مینځ کي دخبرو یوه نوی نقطه را پورته*

*شوی چي غواړی متحده ایالات په ا فغا نستا ن کی پا تی دی شي. داوسنی اودپخوانیو حکومتی چارواکوپه وینا ، پرطا لبا نو با ندي با ورنشی کید لي ، دلیل دا دي چي دغه وسله والی ډلي په تیرو کلونو کی ثا بته کړي چي هر هغه تړون یا معامله چي دوی کړي ، هغه تړون یي ما ت کړي اوبیا په ځا نګړي ډول هغه تړون چي ددوی داید لوژیک او سیاسی چلند سره په توافق نه دي راغلي یا سره په ټکر ولویدلي نو دیو کارپوه یا عا لم په وینا په هغه څه چي مونږ د طا لبا نو په اړه قضاوت کوو ، هغه داچي آ یا دوی دی معاملی ته درنا وی لری ؟*

*دا استدلال له بده مرغه په افغانستان کي دامریکي دملی امنیت دمهمو ګټو په اړین روښا نه دتفکر اوداند یښنی مخه نیسي یاداچی دوی څرنګه غوره بولي چی دا ګټی ترلاسه کړي ، نژدی دولسیزی د مخه متحده ایالات دسپتا مبر میا شت په یولسم نیټه دهغه حملی په ځواب کی چی د نیویارک ښارپه دوه لوړپوړی برجونوکي ترسره شو ی وه پر افغانستان باندي حمله یا تجاوزوه، امادلته ددی حملی لپاره داسی کوم کره سند شتون نه لری چی « ملا عمر» د طا لبا نومشراود هغو حکومت د«**بن لادن**» پلانونه اوکی یا تصویب کړی وی یا داچی دهغه له پلان څخه خبر اوسی اما داحتما ل په توګه نړی په دی با ندي پو هیده یا نړی ته څرګند وه چي د متحده ایالاتوپه وړاندي دطا لبا نو هر احتما لی حمله دهغو ددولت یا درژیم له مینځه تلل یا پای ته رسید ل دي .*

*د سپټمبر د یوولسمې وروسته ، طا لبا نو د «بن لادن » سپارلو ته چمتووالی څرګند کړ خو اما د عینی شواهد و غوښتنه یې وکړه او د شرا یطو په نظر کي نیولو سره دامریکی څخه دخبرو اتروغوښتنه وکړ .اما **دبوش** اداره د خبرو اترو لپاره په هیڅ حا لت کې خپل چمتوالی ونه ښود له ، او د طالبانو د له مینځه وړلو لپاره خپل پوځي عملیات شاوخوا دوه اونی وروسته پیل کړل.*

*طا لبا نو دسپتا مبر د یولسم نیټی څخه لا د مخه دامریکی په قلمرو با ندی دیرغل یا د حملی کومه روښا نه نښی اونښا نی نه وه ښودلي اوله هغه وخته څخه په هیڅ بڼی سره دکوم حملی یا دیرغل پلان نه درلودل ،هغوی یعنی طا لبا ن غوښتل چي په ساده اویا په عادی بڼی سره په افغانستان کی حا کمیت ولری یعنی داسی یو هیواد کوم چي هلته دامریکي ګټی خورا چندان ډیر زیات متصور نه وه ، امریکي یواځی د تروریزم دله مینځه وړلو لپاره دی هیواد ته ور ودانګل یا داخل شو اما دا صولو په نظر کي نیولو سره یو معا مله یا تړون په آسا نی سره کار ترسره کوی.*

*لکه څنګه چي د افغا نستا ن ورځپا نی په ډاګه کړي هغه دا دي چي دي هیوادکي دتروریزم ضد جګړه د ملت جوړونی سره په غبرګ هد ف مینځ ته راغلل یعنی چی دتروریزم ضد*

جګړه د ملت جوړونې دشعار سره په بدرقه ډول رامينځته شو اوبيا په ځا نګړي بڼې سره کله چې په عراق کې جمعي وژونکي سلاح (WMD) ونه موندل شو ، نو د«**بوش**» دولت د پلمې په بڼه د دموکراسۍ په توجيه کولو سره مبا رزی ته په لمن وهلوسره په بې مفهومه او په بې معنی جنګونو لاس پورې کړ ، اولسمشر «**اوباما**» د يوې خلاصې ژمنې په شک اوترديدکې دفترته راغي چې دياغيتوب يا دضدشورشيانو (counter insurgency=COIN) په وړاندي د مبا رزی ما موريت په لاره واچوي کوم چې دهغه هيواد دلوړپوړو چاروا کو ملاتړ اويا دهغو غوښتنه وه چې ددې غوښتنې په پلې کولو سره بايد هم مالی لګښتونه او هم دسرتيرو شمير په ا فغا نستا ن کی زيات شي کوم چې دهمدې مقصد په ترسره کولو سره امريکايان په افغانستان کې دزيات تاوتريخوالی سره مخامخ شو کوم چې دکابل حکومت خپل زيات قلمرو دلاسه ورکړ اوپه دي توګه د ملت جوړونې تيوری خپل اعتبار په دې هيواد کې دلاسه ورکړ.

لکه دکا ل (2001) په مني کي ، نن ورځ متحده ايالات دا فغا نستا ن اوږد مها ل نيواک (اشغا ل) سره هيڅ علاقه نه لري اوطا لبا نوهم پر متحده ايالاتو با ندي دبريد يا دکوم يرغل پلان اوپروګرام نه لری نو په دی توګه ددواړو هيوادونوترمينځ کوم يوه داسې تينګ معاملې او يا کوم تړون ته ضرورت هم نه ليدل کيږي ، اولسمشر «دونالد ترامپ» کولی شي چې په آساني سره له افغانستان څخه امريکايي سرتيری اوباسي لکه څنګه چې هغه کلونه کلونه ژمنه کوي اوطا لبا نو هم د خپل ځا ن د ژغورنې داحسا س په دترلاسه کولو سره بايد چې خپل هيواد د تروريستا نو لپاره داډې په بڼه ونه کاروی اوپه دی هڅه کوم چې هغوی غواړی بيرته سيا سی قد رت ترلاسه کړي نو شا يد چې دسيا لويا درقيبو شورشيا نوسره يې مخه شي نو طا لبا نوبی له دې چې د متحده ايالاتو سره بيا له سره په جنګ جګړه راښکيل شي نو دا به ډير منا سب وی چې خپل لوښې کي د ځان لپاره ضروری دندی ځاي پر ځای کړي يعنې چې ( خپل بشقاب) را ډ که کړي.

دلته ډ ير جدي اند يښنه دا دي چې له ا فغا نستا ن څخه د متحده ايالاتو په وتلو سره داسي را پيښه شي چې طا لبا نو دکا بل ددولت ځای ناستې نشي يعنې دهغه دولت ځای به ونيسی کوم چې په دی شلو کلونو کي د نړي ترټولو قوی ځواک په ما لی اونظامی مرستوسره ځان سا تلی او يو څه لاسته راوړنې لري – اما دبلې خوا څخه حقيقت دادي چې طا لبا نو په دي دو لسيزو کې ثا بته کړل چې هغوی د يو جنګي ځواک په بڼه وجود لری نو داسې رابريښي چې طا لبا ن ممکن د متحده ايالات له وتلو وروسته به دا امکان تر لاسه کړي چې سيا سي واک خپله کړي .

نو په دي توګه حتی که چيري دا وړاند وينه ريښتيا هم وشي يا دعمل جامه واغوندي نو

یو معدود شمیر امریکا یا ن په دي با ور دي کوم هغه حکومت یا دولت چی په کا بل کی واک ترلاسه کوی آیا دامریکی د متحده ایالاتود ملی امنیت مهم حیا تی ګټی به څنګه کیږي ؟ لکه هغسی چی که چیری شل کاله وروسته دولت چی مونږ یی ملاتړ کړي ددی خا وری بشپړ کنترول لکه دپخوا په شا ن وانخلي نو دایی وخت دی چی ومنو چي د ملت جوړونو کي زمونږ تجربه نا کا مه شوی . دا فغا نستا ن اوسنی دولت دجنګ سالارانو دتوافق اود رضایت پر ستنو ولاړ دی یا داچي ډېره لګولی ، هغو چی مخکی خپل معا ملی له طا لبا نو څخه شلولی یا پریکړي وه او اوس کولی شی چی بیا له سره دغه کا ر تر سره کړي.

ډ یری ښا ریا ن یا دا فغا نستا ن اتباع دمرکزی حکومت په پرتله دطا لبا نو محا کمو یا محکمو اوجنا یی قضا یی سیستم ته وړاندی توب یا ترجیح ورکوی او دا ځکه چي په دی محاکمو کی زیات فسا د نشته ، دخلکو امنیت ډیر ښه ترسره کیږي کوم چی دطا لبا نو کړنه دمذهبی محا فظه کارو خلکو ارزښتونو سره تر ډیره حده پوری مطابقت لري حتی دبشری حقونو داندازه کولو سره حا ل داچي مرکزی حکومت په دي ډیری لارو کي د طا لبا نو په پرتله ډیر بی رحما نه دي . اودبلی خوا څخه بی ویلو دی پا تی نشي چي متحده ایالات دخپل اشغا ل په موده کي دا فغا نا نو دهوسا ینی په رامینځه کیدو کی لږ کار کړی دي .

دامریکی متحده ایالات له ا فغا نستا ن څخه د ټولو امریکا یی ځواکونو په ایستلو کی باید چی وخت دلاسه ورنکړی ، طا لبا ن ددی هیواد په راتلونکي کي د یو مشروع لوبغا ړی په توګه با ید ومنی اوله دی ډلی سره په مستقیم خبرو ا ترو کی برخه واخلی .

خپل ځا ن تیرایستل یا غولود ا فغا نستا ن ددولت په با ور کیدی شی چی په یواځی توګه ودریږی اوپه ځمکه کي دقد رت د موازنې ارزونی څخه مخنیوی وکړي .

په ا فغا نستا ن کی د جګړي د دوام ملاتړ کونکي په دي اړه مسله داسی رامینځته کوی چي آ یا پرطا لبا نو باندي باورکیدی شي حا ل داچی نه ، ضرور یا اړین نه دی چی پرهغو باندی با ور وشي ، ټول با ید دامریکي د ملی امنیت د ګټو اود وسله وال سازمان دهڅوني اوا هدا فو په اړه روښا نه پوها وی ولري . له دی لږ لید څخه د متحده ایالاتو لپاره غوره ا نتخاب دوتلو لپا ره روښانه ژمنه ده ، پرته له دي چی مونږددی کولو د مخه جامع معاملی ته د ور رسید وړ یو یا نه ؟

## دلیکونکی په اړین څو کرښی :

**ریچارډ هانیا** د دفاع لومړیتوبونو کې د څیړنې فیلو او په کولمبیا پوهنتون کې د جګړې او سولې مطالعاتو سالتزمان انستیټیوټ دی

-------------------------------------- **په درناوی «24-07-2020»**